سمیع الدین افغانی ۲۰۱۹/۰٦/۲۵

# مـــورنۍ ژبـــه

چې تعلیم په مورنۍ ژبه کې حق دی
مونږ هم کړی په پښتو ژبه سبق دی

ما لـوستلی دی تاریخ د پـلار نیکـنو
د "ملالې" آزادی لاس کې بیرق دی

"احمد شاه بابا" میراني تـه سلام دی
دې سالار د سرلوړی مقام مطلق دی

د "میرویس نیکه" ویـاړني کارنامې بیا
دي روښانه لکه لـمر، لکه شفق دی

د "نازو انا" د مینې خوږ ژوندون دی
چې یې مینه په هرګل په هر زنبق دی

دا میراني کارنامې مـو د پـلارو دي
چې غلیم مخې ته سپر په یوچقمق دی

راځي ورنـو خپله ژبـه معیاري کړو

هـر تـبـر د معیاري ژبې لایق دی

** * **

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!

مـورنی ژبــه

Afghani_s_۴۵_moranay_geba.pdf